د افغانستان اسلامی جمهوري دولت
دعدلي وزارت
دملي ثبات ټولنه

دولت جمهوری اسلامی افغانستان
وزارت عدلیه
انجمن ثبات ملی

Islamic Republic of Afghanistan
Ministry of Justice
National Stability Society

تاریخ ۲۹/۶/۱۳۹۵

د سولې د روان بهېر او ټاکنیزو اصلاحاتو په اړه د ملي ثبات ټولنې
د مطبوعاتي کنفرانس اعلامیه

په هېواد کې روانه جګړه په هېڅ ډول د زغم وړ نه ده. دا جګړه د هرې ورځې په تېرېدو سره زور اخلي او قربانیان يې افغانان دي. په جګړه کې ښکیل لوري باید پدې پوه شي، چې د جنګ او زور له لارې قدرت ته نشي رسېدلی ، همدا راز هغه ډلې او کسان چې د سولې پر وړاندې خنډونه پیداکوي ، په هېڅ صورت په افغان ولس کې ځای نلري او دا ملت ضد هڅې به يې ناکامې وي.

له حزب اسلامي او بل هر وسلوال مخالف سره د سولې د ټینګښت په هکله هلې ځلې او همدارنګه د ټاکنیزو اصلاحاتو په اړه د ښاغلي ولسمشر له لوري وروستني توشیح شوي فرمان مثبت ګامونه دي ، چې د ملت جدي اړتیاوې دي او د هغو له تاوده هرکلي سره مخ شوي دي.

ملي ثبات ټولنه د یو افغانستان شموله ټولنیز بنسټ په توګه د پورته ذکر شویو او یو لړ نورو ملي مسایلو په هکله د خپلو مسؤلیتونو په درک سره خپل دریځ اعلانوي او ښکیلو لوریو او مسؤلینو ته لاندې سپارښتنې او غوښتنې وړاندې کوي:

1. مورد جګړې په ښکېلو خواوو غږ کوو چې جګړه په هېڅ صورت د حل لاره نه ده او شته ټول اختلافات او غوښتنې دې د بین الافغاني میکانیزمونو له لارې حل او فصل کړي ؛
2. سوله د الله (ج) امر او د افغانانو خورا ستره اړتیا او اساسي غوښتنه ده ، چې دولت باید د ملت دغې غوښتنې ته لومړیتوب ورکړي.
3. له حزب اسلامي سره د سولې روان بهېر او په لویه کې د سولې د ارادې د شتون په اړه د ولسمشر د هلوځلو ملاتړ او ننګه کوو ؛
4. دسولې پر وړاندې مخالفت او خنډونه پیدا کول په اصل کې دالله (ج) د امر او د افغانانو د اساسي غوښتنې سره مخالفت دی. ولسمشر دې د هغو ګوتو په شمېر کړیو او اشخاصو څېرې ملت ته بربنډې کړي ، چې له سولې سره مخالفت کوي ؛
5. پر وسلوالو طالبانو هم غږ کوو ، چې د هېواد د لوړو ګټو او ټول ملت د غوښتنې او تلپاتې سولې د ټینګښت لپاره له دولت سره د بین الافغاني مذاکراتو له لارې رامخته شي ؛
6. له نړیوالو څخه مو غوښتنه ده چې دسولې پروسو په اړه اخیستل شوو ګامونو څخه دملاتړ ترڅنګ په افغانستان کې دواقعې سولې راتګ ته د افغانانو په لاس لاره هواره کړي ؛
7. د ټاکنیزو اصلاحاتو په اړه د ولسمشر لخوا توشیح شوی فرمان ، چې پکې وړو حوزو وېشل په نظر کې نیول شوي ، د عدالت له مخې د ټول ملت په ګټه او مورد د دې سیستم دپلي کولو غوښتنونکي یو ؛
8. راتلوونکې پارلماني ټاکنې باید نورې د ځنډ سره مخ نه شي او حکومت دې د ټاکنو د ترسره کولو لپاره ولس ته خپله عملي اراده په ډاګه کړي او تر دې ډېر په بېلابېلو پلمو د دغې ملي پروسې ځنډول ملت ته د ملنو وړ نه دي ؛
9. له ټاکنو کمېسیون څخه مو غوښتنه ده چې د راتلوونکو پارلماني ټاکنو دترسره کولو لپاره دهراخیز چمتوالي ترڅنګ دشفافیت لپاره اړین میکانیزمونه وړاندې او په دې برخه کې دمشکل په صورت کې معلومات له ملت سره پر وخت شریک کړي ؛
10. په ټاکنیزو کمېسیونونو کې اصلاحاتو په پلمه د کمېسیون له کارکوونکو او اشخاصو سره عقدوي چلند او غچ اخېستنه د اصلاحاتو په مانا نه ده بلکې اصلاحات باید په قوانینو او سیستم کې رامنځته شي ؛
11. او په پای کې یوځل بیا د سولې د روان بهیر څخه په کلکه ملاتړ کوو او د دولت له هر هغه مثبت ګام څخه ، چې پایلې يې د خلکو په ژوند کې مثبت تغیرات رامنځته کوي ، ملاتړ او ننګه کوو.

په درنښت ،دملي ثبات مشرتابه